د اساسي قانون کمیسیون

دارالانشا

# د عامه نظر غوښتنې ستراتیژي (کړنلاره)

۱۳۸۲

# اجراييوی فعاليتونه

## لنډه اشاره

څوک؟
څه شی؟
ولې؟
څه وخت؟
چېرته ؟
څرنګه ؟
**هدف**

## له غونډو څخه وړاندې فعاليتونه

عامه پوهونه
هدف
دکابل دکاري غونډې (ورکشاپ) جوړول
مواد
دمدنی ټولنې ونډه
دسيمه ييزو دفترونو جوړول

## غونډې

د غونډو څرنګوالی
ټاکل شوې ډلې
د غونډې جوړولو ځای
چوکاټ
دقيقه مهال ټاکنه
دعامه نظر غوښتنې د غونډو د بهير ثبت

## له غونډو څخه وروسته فعاليتونه

د نظرونو تنظيم او تحليل
د عامه نظر غوښتنې رپوټ
د اساسي قانون په مسوده کې د نظرونو ځايول

## لوژستيکي ملاتړ

هدف
عمومي اړتياوې

## ضميمې

۱- ضميمه : د نظر غوښتنې د ټيمونو لست او اعلان شوی مهالويش.
۲- ضميمه : نادولتي سازمانونه او مدني ټولنه
۳- ضميمه : کاري پروګرام

## د اجراييوي فعاليتونو لنډيز

د اساسي قانون دکميسيون غړي به د افغانانو د آرمانونو، نظرونو او وړانديزونو د راټولولو لپـاره عامــه نظــر غوښتنه د اساسي قانون د مسودې تر بشپړېدو مخکې او وړاندې تردې چې دغــه مســوده د لــويې جــرګې کمېسيون ته وسپاري سرته ورسوي. د خلکو نظرونه له دريو لارو څخه راټولېږي: د کمېسيون غړيو يــا ســيمه ييزو دفترونو ته د ليکلو وړانديزونو سپارل، د کمېسيون غړيو ته د شفاهي وړانديزونو ورکول دعامه نظرغوښتنې په غونډو کې او د پوښتنليکونو له لارې چې د نظر غوښتنې په غونډو کې ويشل کېږي او د خلکو له خــوا بــه ډکېږي.

نظر غوښتنه دوه مياشتې وخت نيسي او د کمېسيون غړي دافغانستان ۳۲ ولايتونو ته ځي. همدا راز ايــران او پاکستان او د امکان په صورت کې به نورو هېوادونو ته هم دافغان کډوالو د نظر غوښتنې لپاره سفرونه وکړي. دوی به سربېره پردې چې له خلکو او د ټولنې له مهمو شخصيتونو سره ګوري خلک به دې ته هم هڅوي چــې د اساسي قانون د مسودې لپاره خپل ليکلي وړانديزونه هم طرح کړي. د کميسيون غړي به هڅه وکړي چــې د خلکو آرمانونه او غوښتنې د اساسي قانون په چوکاټ کې ځای کړي.

نظر غوښتنه ددې لپاره ښه وخت دی چې د افغانستان خلک وکړای شي د اساسي قانون د تدوين په بهير کــې ونډه واخلي، د نظر غوښتنې له بهير څخه وروسته خلک وخت مومي چې کمېسيون ته خپل نظرونه او ارمانونــه وسپاري. بشپړه مسوده له تدقيق او تدوين وروسته لويې جرګې ته له سپارلو يوه مياشت مخکــې د خلکــو پــه اختيارکې ورکول کېږي چې لا هم د هغې د ارزونې ، تفسيراو تحليل لپاره لاره هواره شي. او دا ښــه وخــت دی چې خلک له خپلو استازيو سره سلا مشورې وکړي چې په يوه روښانه ذهن په لويې جــرګې کــې ګــډون وکړي.

### لنډه اشاره

ټاکلې ده چې د کمېسيون رئيس او يو شمېر غړي سيمو ته ولاړ شي او دخلکو د نظر غوښتنې په بهــير کــې ګډون وکړي. دا کار به د نظر غوښتنې د غونډو په نيمايي کې ترسره شي.
د نظر غوښتنې د غونډو د ترسره کولو جزئيات په لاندې ښه جوړ شوي دي.

- کوم کسان؟

د کمېسيون غړي په ۳ کسيز وکاري ډلو کې له يوه ربورټر سره ډلبندي شوي او دغړيو نومونه په لومړۍ لمبر ضميمه کې راغلي. ډلبندي په دقت ترسره شوې چې جنسيتي، قومي او دکاري صلاحيتونو انډول تأمين شي. دکمېســيون د غړيو هره ډله به هڅه وکړي چې هم له عادي خلکو او هم له هغو ډلو سره، چې د خطر احساس ورسره وي خبرې اترې وکړي. په هره سيمه کې کېدای شي دخلکو ځينې ډلې په خطر کې وي بايد هڅه وشي چې د هغوی حضــور او ګډون تأمين شي.

همداراز به دوی له داسې ډلو سره هم مخامخ شي چې په دغې پروسې کې د لاسوهنې هڅې کوي.

- څه شی ؟

د خلکو د نظرونو او وړاندیزونو د راټولو لپاره به د افغانستان په ټولو ولایتونو پاکستان او ایران کې له خلکو سره ګنې غونډې جوړې شي چې د اساسي قانون د تدوین په پروسه کې خلک ونډه واخلي.

- ولې؟

څو وکړای شو د اساسي قانون د تدوین بهیر د امکان تر بریده جامع او ټولوته د منلو وړ وګرځوو. او دهېوادوالو هغه څواکمن اوښه وړاندیزونه چې له کابل څخه بهر یاد کابل شاوخوا ژوند کوي، هم تر لاسه شي او ډاډ ترلاسه شي چې د افغانانو هیڅ فرد یا ډله د اساسي قانون د تدوین له پروسې څخه لرې او محروم نه ده ساتل شوې.

- څه وخت؟

پروسه د جون د میاشتې له لومړۍ اونۍ څخه پیل او د جولای په ۳۱ مه پای ته رسېږي. ( دمسافرتونو منظم پروګرام به د کاري پروګرام د یوې برخې په توګه وټاکل شي).

- چېرته؟

نظر غوښتنه د هر ولایت په څو سیمو کې چې د اساسي قانون د کمېسیون د سیمه ییزو کارکوونکو د نظر او دخلکو د اړتیاو له مخې به ټاکل کېږي، ترسره کېږي.

- څرنګه

د کمېسیون غړي د افغانستان د اسلامی انتقالی دولت په هدایت او د اساسي قانون د کمېسیون د دارالانشا UNDP او UNAMA په ملاتړ په بېلابېلو سیمو کې نظر غوښتنه ترسره کوي او د نظر غوښتنې پایلې به په کابل کې دارالانشا ته رارسوي. کمېسیون د خلکو دنظرونو نتیجه اخیستنه، راټولونه، تحلیل او ترکیب ترسره کوي او د مسودې د بیا کتنې او ارزونې لپاره یې چمتو کوي.

هدف:

هدف دا دی چې د امکان ترحده دخلکو نظرونه د افغانستان په نوي اساسي قانون کې ځای کړای شي.

## له غونډو څخه وړاندې فعالیتونه

عامه پوهونه

هدف:

هدف دا دی چې د نظر غوښتنې اهمیت څرګند شي او دا جوته شي چې په دې بهیر کې د خلکو ګډون دهغوی په ژوند کې څومره اغېزې لري او د اساسي قانون په جوړولو کې دهغو نظرونه څومره ونډه لري.

## په کابل کې دعامه پوهونې د کاري غونډې (ورکشاپ) جوړول د ۲۰۰۳ کال د اپریل له ۲۱ تر ۲۵

پورې د دارالانشأ د سیمه ییزو کارکوونکو دپوهاوي او لارښوونې لپاره چې د عامه پوهونې د بهیر کمپاین څه شی ده او ددې لپاره چې د یوې تاکلې ستراتیژۍ پر جوړولو سلا راشي او د اړتیا وړ مواد وپېژندل شي د اپریل له ۲۱ تر ۲۵ پورې په کابل کې یوه کاري غونډه جوړه شوه دا غونډه رسماً د اساسي قانون د کمیسیون د رئیس له خوا پرانیستل شوه. دکاري غونډې د ورځینو فعالیتونو پروګرام داسې جوړ شوی و:

۱. لومړۍ ورځ : د لومړۍ ورځې په اوږدوکې ګډون کوونکي د اساسي قانون د تدوین له بهیر، هدفونو او دعامه پوهونې او عامه نظر غوښتنې د موخو له څرنګوالي څخه خبر کړای شول او له هغو موادو سره اشنا شول چې دعامه پوهونې لپاره د دارالانشا له خوا چمتو شوي وو.
۲. دوهمه ورځ: ګډون کوونکي دکارد اسانتیا لپاره په څو ډلو وویشل شول. او هره ډله له جزئیاتو سره اشنا شوه.
۳. درییمه ورځ: ګډون کوونکي یوځل بیا د سیمو له مخې سره وویشل شول او له هرې ډلې څخه وغوښتل شول چې په خپلو سیمو کې د عامه پوهونې دکمپاین دکاري پروګرام د اجرا کولو لپاره چمتو شي.
۴. څلورمه ورځ: د هرې سیمې له استازیو څخه غوښتنه وشوه چې خپل کاري پروګرام د نورو سیمو استازیو ته ارائیه کړي او پردې بحث وشوچې څرنګه کېدای شي کاري پروګرامونه په برابره توګه توحید او لابډای شي؟
۵. پنځمه ورځ: د دارالانشا سیمه ییزو کارکوونکو وکړای شول د دولت له عالي رتبه چارواکو له هغې ډلې څخه له اړوند وزیرانو او د ملګرو ملتونو له لوړ رتبه چارواکو او نورو مربوطو چارواکو سره وګوري.

**مواد:**

د عامه پوهونې څانګه بریالۍ شوه چې دعامه پوهونې لپاره دغه مواد چمتو کړي:

۱. د عمومي ښوونو نصاب
۲. معلوماتي مواد
۳. پوسترونه
۴. د عامه پوهونې د پروسې د ترسره کوونکو لپاره لارښودې پاڼې.
۵. ثبت شوي مواد ( صوتي - تصویري)
٦. د عامه پوهونې د پروګرام لپاره لومړني مواد.

### د مدني ټولنې ونډه

افغاني مدني ټولنه سره هماهنګه شوې او یوه ټولنه یې جوړه کړې چې د اساسي قانون دکمېسیون له دارالانشا سره دعامه پوهونې په کمپاین کې برخه واخلي. دغې ټولنې وکړای شول دعامه پوهونې په بهیر کې یو شمېر مواد د ګټې اخیستنې لپاره برابر کړي. د دارالانشا دعامه پوهونې څانګې دغه مواد وڅارل څو ډاډ تر لاسه شي چې دا ټولنه ناسم پیامونه نه خپروي اوپه دې اړه یې ګټې کاري غونډې درلودې چې په هغو کې بـه د لازمې هماهنګۍ په اړه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره دارالانشا تل ګډون کاوه.

## د سیمه ییزو دفترونو جوړول:

په سیمو، ښلابښلو ولایتونو او په ایران او پاکستان کې د کډوالو ترمنځ د پروګرام شویو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د اساسي قانون د کمېسیون دارالانشا د یوناما د دفترنو په مرسته د افغانستان په ښلابښلوسیمو یعني کابـــل، جلال آباد، ګردیز، بامیان، کندهار ، هرات ، مزار، کندز او دپاکستان او ایران په څلورو ښارونو پېښور، کویټه، تهران او مشهد کې خپل دفترونه پرانیستل له سیمه اییزو دفترونو پرته په هر ولایـــت کـــې هـــر یوهمـــاهنګ کوونکی استازي شته او سیمه ییز دفترونه په ټولو سیمو کې دسیمه ییزو چارواکو، پوهانو، عالمـــانو، د مـــدني ټولنې استازیو ، ټولنیزو کارکوونکو او د نادولتي سازمانونو استازیو په پراخ ګډون او ملاتړ جوړ شوي دي.
د عامه پوهونې په اوږدو کې سیمه ییزو دفترونو نه یوازې دعامه پوهونې اوعامه نظرغوښتنې لـــه لارو چـــارو او موادو څخه په مرکز کې ګټه واخیسته، بلکې له هغو پروګرامونو څخه یې هم استفاده وکـــړه، چـــې د عامـــه پوهونې د ترسره کولو دادارې لپاره په جالبه بڼه جوړشوي وو.
سییمه ییز دفترونه له یوه سیمه ییز هماهنګ کوونکي، دهغه مرستیال، دعامـــه پوهـــونې لـــه مســـوول او اداري مسوول څخه جوړ شوي دي.

## غونډې:

### د غونډو څرنګوالی:

دوه ډوله غونډې شته: آزادې غونډې چې په هغو کې د هر افغان ګډون آزاد دی او د افغاني ټولنې له ځانګړیو ډلو سره غونډې. آزادې غونډې د عامه نظر غوښتنې لپاره د هرې ډلې د ماموریت په پای کې کلـــه چـــې لـــه ځانګړو ډلو سره غونډې پای ته رسېږي جوړېږي په کلي توګه ۹ داسې ډلې په ګوته شـــوي دي، چـــې بایـــد د ځانګړو غونډو لپاره ورسره خبرې اترې وشي. خو تر ډېره بریده خبره په ښلابښلو سیمو کې دښلابښلو ډلـــو لـــه شتوالي سره تړلې ده. سیمه ییزې ډلې، په تېره بیا سیمه ییز هماهنګ کوونکي به داسې ډلې په ګوته کوي او لـــه هغو سره به خبرو اترو ته لاره هواروي. ټاکل شوې ډلې باید په ځانګړې ډول د خومره والي او څرنګـــوالي لـــه نظره متوازنې وي. دعامه نظر غوښتنې غونډې به ډېرې لویې نه وي. دخلکـــو نظرونـــه لـــه درې لارو څخـــه راټولېږي، لیکل شوي نظریات چې دکمېسیون غړیو یا سیمه ییز دفتر ته سپارل کېږي. شفاهي وړاندیزونه چـــې دعامه نظر غوښتنې د غونډو په بهیر کې د کمېسیون غړیو ته وړاندې کېږي او د هغو پوښتنلیکونو له لارې چې د نظر غوښتنې په غونډو کې د خلکو ترمنځ وېشل کېږي او خلک یې له بشپړولو وروسته ښېرته مسوولینو تـــه سپاري.

## ټاکل شوې ډلې:

ښکاره ده چې د عامه نظر غوښتنې کمپاین داسې طرح شوې چې د افغاني ټولنې ګڼو ډلو ته وررسیدل یې آســـانه کړي دي. چې دا به د ټولنې له هرې ډلې سره د خبرو اترو کولو لپاره لاره هواره کړي.
عامه نظر غوښتنه داسې ترسره کېږي چې د افغاني متجانسو ډلو ته د وررسیدلو کار آسانه کړي. متجانسې ډلـــې باید داسې وټاکلې شي چې د افغانستان له ټولو خلکو څخه مناسب استازیتوب وکړای شي. متجانسې ډلې هغه ډول چې د پروژې په اسنادو کې یې یادونه شوې ده داسې ټاکل کېږي.

[illegible]

۸. **ځوانان** : په افغانستان کې ځوانان هم يوه محرومه ډله ده. هغوی غالباً د ملي مهمو چارو له بهيرونو څخه لرې پاتې شوي دي. دځوانانو د سلګونو ډلو جوړېدل او د ځوانانو د هماهنګوونکو مؤسسو کار د افغانستان په بيارغاونه کې د هغوی د فعال او ګټور ګډون ښکارندوی دي. نو نه ښايي چې تر دې زيات له پامه وغورځول شي. تردې نامه لاندې د ځوانانو بېلابېلو څانګې، د ښوونځيو زده کوونکي، د پوهنتون محصلين، د ځوانانو د ټولنو غړي په نادولتي مؤسسو کې فعاله ځوانان او نور شاملېږي.

۹. **د ملي او نړيوالو نا دولتي سازمانونو افغاني غړي:**

د يوه استازي او کارکوونکي دولت په نشتوالي کې د افغانستان د جګړې په دوولسيزو کې نادولتي سازمانونو د ښووني روزنې، روغتيا، کرنې او بنسټيزو جوړښتونو په وده کې لويه ونډه درلوده.
د همدې دوامداره تماسونو له امله ددغو سازمانونو افغاني کارکوونکي په دې پوهېږي چې افغانان له کومو لويو ستونزو سره مخامخ دي. ګڼ روښانفکره او لوستي افغانان اوس هم په همدې نادولتي سازمانونو کې حتی په لرې پرتو سيمو کې په کار بوخت دي. ځکه خو د افغاني ټولنې دا برخه متخصصه او با کفايته ډله ګڼل کېږي چې بايد ورسره سلا مشورې ترسره شي.

۱۰. **نورې ډلې** : د کمېسيون غړيو او د دارالانشا سيمه ييزو دفترونو ته ځينې اختيارات ورکړل شوي چې هره ډله يې په نظر د سلا مشورې لپاره مناسبه ورغله ويې پېژني او له هغوی سره مشورې وکړي. دا ډلې د دولتي مامورينو سيمه ييزو ځواکمنو کسانو، کوچيانو او نورو ته ويل کېدای شي.

## د غونډو د جوړولو ځای:

د دارالانشاء سيمه ييز دفترونه مسووليت لري چې ټولو غونډو ته اسانتياوې برابرې کړي. هغوی مسوول دی چې د غونډو لپاره مناسب ځايونه وټاکي چې د عامه نظر غوښتنې د ډلو امنيت په ښه توګه تأمين شي او نورې اسانتاوې ولري. د استراتيژي کله چې بشپړه شوه سيمه ييزو دفترونو ته استول کېږي هغوي بايد له دې ستراتيژۍ سره سم خپل کاري پروګرامونه او فعاليتونه تنظيم کړي.

## دغونډو بڼه (شکل)

په عمومي توګه د غونډو د چوکاټ په هکله د پرېکړې کولو خبره په سيمه ييزو او د نظر غوښتنې په ډلو پورې ترلې ده. د غونډو چوکاټ کېدای شي له يوې سيمې څخه بلې ته او له يوه ولايت څخه بل ته توپير ولري. البته دا ضرور نه ده چې دوی دې خامخا هماغه چوکاټ چې کمېسيون او دارالانشاء منلی دی عملي کړي که څه هم چې هلته يې عملي کول ناممکن وي.
سيمه ييز دفترونه او د دارالانشاً ولايتي استازي به ډېر ژر خبر کړای شي چې د عامه نظر غوښتنې د غونډو جوړولو ته چمتو شي. په دې چمتووالي کې د غونډو دځای، دمخاطبو ډلو خبرول، د کميسيون دغړيو لپاره د اوسېدو د ځای برابرول او امنيتي ترتيبات راځي.

هغه غونډې چې له بېلابېلو ډلو سره جوړېږي باید دغه بهیر ووهي:

۱. د کمېسیون غړي به هره غونډه د اساسي قانون د تدوین د بهیر په هکله د مفصلو اطلاعاتو په ورکولو سره پیل کوي. همدا راز په دې هکله به هم غږېږي چې د افغانستان د خلکو ګډون په دغه بهیر کې څومره ډېر ارزښت لري د کمېسیون غړي به ګډون کوونکي په دې خبر وي چې د دوي نظرونه څنګه اورېدل کېږي او څه ډول ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

۲. په بل ګام کې به دکمېسیون غړي د عامه نظرغوښتنې د غونډو د ګډون کوونکو د نظرونو او وړاندیزونو په اورېدو پیل کوي او د خلکو دغه نظرونه او وړاندیزونه به راټولوي چې د امکان تر بریده به عملي شي:

ګډون کوونکي به وهڅول شي چې خپل نظرونه په شفاهي توګه غونډې ته بیان کړي. ریوټر به هم په غونډه کې حاضر وي او ویل شوي نظرونه به په ټیپ کې ثبتوي اوهم به یې لیکي.

دکمیسیون غړي به همدا راز له پوښتنلیکونو څخه کار اخلي چې د اساسي قانون په اړه د بېلابېلو موضوعاتو په برخه کې نظرونه او وړاندیزونه راټول شي. دکمېسیون غړي به پوښتنلیکونه له ځان سره غونډو ته وړي او ګډونکوونکو ته به یې ویشي. هغوی مخکې له دې چې له ګډونکوونکو څخه غوښتنه وکړي چې پوښتنلیکونه ډک کړي د پوښتنو په هکله به معلومات ورکوي او د پوښتنو شرح او توضیح به کوي وروسته به ګډون کوونکو ته (۲- ۳ ساعته) وخت ورکوي ، چې پوښتنلیکونه بشپړ ډک کړي. پوښتنلیکونه به مسلسلې نمرې ولري چې له هر ډول کمي او زیاتي څخه مخنیوی وشي.

دکمېسیون غړي کولای شي له ګډون کوونکو څخه غوښتنه وکړي، چې هغه نظرونه او غوښتنې چې په پوښتنلیکونو کې نه شته او یایې دوی د کوم دلیل له مخې په ښکاره توګه نه شي څرګندولای هم ولیکي او دوی ته یې وسپاري.

**اعلان شوی مهالویش:**

د عامه نظرغوښتنې د پیل دقیق مهال له هغه کنفرانس څخه وروسته دی چې په کابل کې د ۲۰۰۳ کال د جون د میاشتې په ۷ نېټه جوړېږي یعني د ۲۰۰۳ کال د جون په اتمه نېټه به پیل کېږي، دافغانستان د انتقالي دولت رئیس به د عامه نظر غوښتنې بهیر رسماً پرانیزي.

د عامه نظرغوښتنې ډلې په دوو برخو ( لومړۍ برخه او دوهمه برخه) وېشل شوي دي. لومړۍ ډله د ۲۰۰۳ کال د جون له ۱۰ څخه د جولای تر ۱۰ پورې په سیمو کې ده. او دوهمه ډله د ۲۰۰۳ کال د جون له ۲۰ څخه د جولای تر ۲۰ پورې په سیمو کې پاتې کېږي.

(دوهمې ضمیمې ته پام وکړئ) د لیکل شویو وړاندیزونو د سپارلو وروستۍ نېټه د ۲۰۰۳ کال دجولای ۳۱ ټاکل شوې ده.

### د عامه نظر غوښتنې د بهیر ثبت:

د نظر غوښتنې د هر ټیم رپورټر به د نظر غوښتنې د غونډو جریان د ټیپ او لیکلو په وسیله ثبتوي او مسوولیت لري چې د امکان تربریده غونډې په دقیقه توګه ثبت کړي. دی به ورروستی ورځنې رپورټ د دارالانشأ مرکزي دفتر ته رالېږي او له سیمې څخه له رارسېدو سره سم به رپورټونه سره برابروي.

په عین حال کې به له هرې غونډې څخه یو جلا رپورټ هم جوړ وي. دعامه نظر غوښتنې دغونډو د رپورټ ورکولو بیل چوکاټ د ډاډ او سمون لپاره مخکې جوړ شوی او د یو لاس او منظم رپورټ جوړولو لپاره به هم ډېر ژر یو چوکاټ جوړشي. د سیمه ییزو دفترونو ټول توحیدی رپورټونه د اساسي قانون د تدوین د بهیر په هکله د کتاب په لیکلو کې مرسته کوي.

## له غونډې څخه وروسته فعالیتونه:

### د نظریاتو تنظیم او تحلیل:

د کمېسیون غړي د نظر غوښتنې په موده کې د خلکو د نظرونو او وړاندیزونو د تحلیل لپاره لږ وخت لري. د همدې لپاره یاد شوي نظرونه او وړاندیزونه کمېسیون ته رالېږل کېږي چې دلته څېړونکي د هغو تحلیل او ارزونه ترسره کړي.

د کمېسیون د غړیو هرې برخې ( لومړۍ او دوهمې برخې) ته دوه کسه څېړونکي ټاکل کېږي، چې له هغوی سره مرسته وکړي. څېړونکي به د وخت د لږ لګښت او سم تنظیم لپاره د کاري پلان او پروګرام له مخې عمل کوي:

۱. دڅېړونکو هره ډلګۍ باید د کمېسیون د غړو له یوې برخې سره چې له کابله د خلکو د نظرونو د راغونډولو لپاره سیمو ته ځي ، په تماس کې اوسي. څېړونکي به د نظر غوښتنې په اوږدو کې راټول شوي نظرونه او وړاندیزونه تحلیلوي او له هغو څخه به یو متن جوړوي.

۲. د عامه نظر غوښتنې د دورې له پای ته رسیدو څخه یوه اونۍ وړاندې به د څېړونکو دواړه ډلګۍ د خپلو نظرونو د شریکولو لپاره سره کیني څو په یوه واحد نظر سره سلا شي او عمومي ارزونه ترسره کړي.

۳. څېړونکي به د عامه نظر غوښتنې د دورې په پای کې ټول مواد منظم او چمتو کړي او له یوې پیشنهادي ستراتیژۍ سره به یې یوځای د کمېسیون غړیو ته وسپاري. د کمېسیون غړي به هغه لولي او د اساسي قانون د مسودې په هره برخه کې چې لازمه وي له هغو نظریاتو څخه کارو اخیستل شي.

له پوښتنلیکونو څخه ترلاسه شوي اطلاعات به د اطلاعاتو په ځانګې کې راغونډېږي ددې لپاره دنظریاتو د تنظیم او ترتیب یوه درې کسیزه ډله مخکې له مخکې جوړه شوې او همدا دنده ورپه غاړه ده.

٨ [illegible]

[illegible] ١٠

[illegible]

۳. **ارتباطات:** ثريا ټليفونونه، افغان بې سيم اونور وسايل چې په لاس کې دي او مناسب دي ورڅخه به ګټه اخيستل کيږي.

۴. **امنيت** : د کورنيو چارو له وزارت او سيمه ييزو چارواکو سره د بشپړې هماهنګۍ له شتوالي سره سره او د اړتيا په صورت کې د نړيوالې ټولنې په مرسته امنيت تأمينيږي. په دې هکله له نړيوالو پوځې ځواکونو سره يوه جلسه هم جوړيږي چې هغوی د پروګرام د جزئياتو له بهير څخه خبر کړای شي. د امنيت د ټنګښت لپاره بايد وټاکلی شي چې ټولې غونډې هلته ترسره شي، دکورنيو چارو وزير منلې ده چې له هر ټيم سره شپږ کسه پوليسان يوځای کړي چې د کمېسيون د غړيو امنيت د لارې په اوږدو کې دغونډو د جوړيدو په ځای او د اوسيدو په ځای کې وساتي.

همداراز د کورنيو چارو وزير له واليانو څخه غوښتنه کوي چې د غونډو د جوړېدو د ځای د شاوخوا امنيت ساتلو ته پام وساتي.

۵. **د احتمالي پېښو لپاره پروګرامونه:** که ناڅاپي پېښې رامنځ ته شي چې له کابل څخه د مرستې او ملاتړ لپاره اړتيا پېښه شي د اساسي قانون د کمېسيون دارالانشا د افغانستان له اسلامي انتقالي دولت او نړيوالې ټولنې سره په ګډه کار کوي چې په سيمه کې دکمېسيون له غړيو سره مرسته اوخدمت وکړي.

٦. **هماهنګی او ملاتړ:** دارالانشا به هره ورځ دځپلو کارکوونکو د وضعيت په هکله رپورټونه ترلاسه کوي همداراز د مالي چارو او دکارونو د پرمختګ په اړه به رپوټونه ولري او دهغو له مخې به لازمې کړنې ترسره کوي. ددې سند له تصويب سره به د کاري پروګرام بشپړه ستراتيژي تدوين او تدقيق شي. چې په لومړي قدم کې به لوژستيکي ، امنيتي، حمل ونقل استوګنې او د ارتباطاتو مسايل همداراز د اړتياوو په هکله د ګزارشونو د رارسېدو مسايل شامل وي.

## له رسنيو سره همکاری

د عامه نظر غوښتنې په بهير کې د اساسي قانون د کمېسيون د مطبوعاتي دفتر ستراتيژی داساسي قانون د کمېسيون مطبوعاتي دفتر د نظر غوښتنې په ټول بهير کې د مطبوعاتي فعاليتونو له لارې لازم اطلاعات خلکو ته رسوي. ددې هدف د ترلاسه کولو لپاره دغه دفتر د بېلابېلو اړخونو ونډې داسې ترتيبوي.

# طرز العمل او لارښود اصول

## د دارالانشا مطبوعاتي دفتر

راپورټران د عامه نظر غوښتنې د غونډو د بهير په ترځ کې د ټولو غونډو بهير ثبتوي او د ورځنيو رپوټونو لنډيز مرکزي دفتر ته ليږي.

مطبوعاتي دفتر دغه رپوټونه د "اساسي قانون" قانون په خپرونه کې خبروي. اساسي قانون په مياشت کې يوځل پنځلس زره ګنې خپريږي.

مطبوعاتی دفتر د دارالانشا له نورو ځانګړو سره په همکاری هڅه کوي چې د اړتیا وړ اطلاعات د ټلویزیون، راډیو، ورځپاڼو او مجلو له لارې خلکو ته ورسوي.
مطبوعاتي دفتر هڅه کوي دعامه نظر غوښتنې په بهیر کې عامه اطلاعات او د خپرېدو وړ معلومات له سیمه ییز رپوټونوڅخه راټول او ډله ییزو رسنیو ته یې وروسپاري.
مطبوعاتي دفتر په سیمو کې د عامه نظر غوښتنې د کمپاین په پای کې به د اړتیا په صورت کې مطبوعاتي کنفرانسونه جوړوي. په خپرونو کې د واقعیتونو له انعکاس څخه ډاډ تر لاسه کولو لپاره مطبوعاتي دفتر په دوامداره توګه مطبوعات څاري او که لازمه وي د ځینو خپرونو ځواب په برابروي.
له سیمه ییزو دفترونو څخه اونیز رپوټونه ترلاسه کوي.
مطبوعاتي دفتر ټولو راپوټرانو، د سیمه یزو دفترونو کار کوونکو او ټولو هغو کسانو ته چې د عامه نظر غوښتنې له ډلو سره ملګري دي سپارښتنه کوي چې له ټول بهیر څخه عکسونه واخلي، له دې عکسونو څخه به خپرونه کې کار اخیستل کېږي.

## د یوناما د مطبوعاتي دفتر ونډه

یوناما د اساسي قانون دکمېسیون له دارالانشا سره هر اړخیزه مرسته کوي مطبوعاتي دفتر په ځانګړې توګه د یوناما مرستې ته اړتیا لري چې د هغوی د ارتباطي وسایلو په وسیله خپل راپورونه راټول او د اساسي قانون خپرونه هر هغه ځای ته چې یوناما حضور لري ورسوي.
د عامه نظر غوښتنې په بهیر کې د رسنیو ونډه خبري رسنۍ به هغه اطلاعات خپروي چې له کمېسیون څخه یې ترلاسه کوي.
دا کار د دارالانشا د مطبوعاتي دفتر او خبري رسنیو ترمنځ په پوره هماهنګۍ دوستانه او دوامداره اړیکو سرته رسیږي. رسنۍ تل د دارالانشا له مطبوعاتی دفتر سره تماس لري او تل به هڅه کېږي چې د پېښو له دقیقو خبرونو څخه خبروي.
په سیمو کې د سیمه ییزو رسنیو او په مرکز کې دموجودو رسنیو لېستونه په سیمو او مرکز کې جوړېږي چې مناسب او ګټور تماس موجود وي.

## د دارالانشا، یوناما او رسنیو اړیکې

دکمېسیون دارالانشا او یوناما دوه کسه معرفی کوي چې د عامه نظر غوښتنې په بهیر کې لږ ترلږ د ورځې یوځل یو له بل سره وګوري او د خپرواوې وړ اطلاعات دارالانشا او اړوندو کسانو ته وسپاري. دوی به رسنیو ته لوری ښیي او همیشنۍ غونډه او ناستی به سره لري.

## ضمیمې

١- ضمیمه : د نظر غوښتنې د ټیمونو لېست او اعلان شوی مهالویش.
٢- ضمیمه : نادولتي سازمانونه او مدني ټولنه
٣- ضیمه : کاري پروګرام

# لومـــړی پـــړاو

## د "الف" ګروپ

## د ختیځ زون

د ټیم غړي: محمد علم اسحق زی، ډاکټرهاشم کمالي، پروین مومند

| شمېره | مقصد له | مقصد تر | د سفر نېټه | د ټرانسپورټ وسیله | د پاتې کېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | کابل | جلال آباد | د جون (10) مه | د دفتر موټر | 8 ورځې | سپین غر هوټل یا دفتر |
| 2 | جلال آباد | لغمان | د جون (18) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | دجلال آباد دفتر دې چمتو وي. |
| 3 | لغمان – جلال آباد | کونړ | د جون (24) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | د جلال آباد دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 4 | کونړ | نورستان | د جون (30) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | د جلال آباد دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 5 | نورستان | جلال آباد | د جولای (6) مه | د دفتر موټر | 3 ورځې | دسپین غر هوټل او یا د جلال آباد دفتر |
| 6 | جلال آباد | کابل | د جولای (10) مه | د دفتر موټر | 1 ورځ | |

ریپورټر: ګل انور انوری:

محققین : اسدالله محقق، ډاکټر عبدالحکیم

د موټر نمبر او موټروان:

## د "ب" گروپ

## سوېلي زون

**د ټیم غړي: نادرشاه نېکیار، محمد طاهر بورگی، امنه افضلي (لومړی ۱۰ ورځې)، فاطمه گیلانی (وروستې ۲۰ ورځې)**

| شمېره | مقصد له | مقصد تر | د سفر نېټه | ټرانسپورټي وسیله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | کابل | پکتیا | د جون (10) مه | د دفتر موټر | 8 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 2 | پکتیا | خوست | د جون (18) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 3 | خوست | پکتیا | د جون (24) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 4 | پکتیا | پکتیکا | د جون (30) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 5 | پکتیکا | غزنی | د جولای (6) مه | د دفتر موټر | 3 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 6 | غزنی | کابل | د جولای (10) مه | د دفتر موټر | 1 ورځ | |

رپورټر: حبیب الله عتیق :

محققین : اسدالله محقق، ډاکټر عبدالحکیم

د موټر نمبر او موټروان:

## د "ج" ګروپ

## د شمال ختيځ زون

**د ټيم غړي: محمد يعقوب واحدى، وکيل شمس الدين، شکريه بارکزى:**

| شمېره | مقصد | | د سفر نېټه | ټرانسپورټي وسيله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځاى |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | له | تر | | | | |
| 1 | کابل | کندز | د جون (10) مه | د يوناما يا اريانا الوتکه | 8 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 2 | کندز | تخار | د جون (18) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 3 | تخار، کندز | بغلان | د جون (24) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 4 | بغلان ، کندز | بدخشان | د جون (30) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 5 | بدخشان | کندز | د جولاى (6) مه | د دفتر موټر | 3 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 6 | کندز | کابل | د جولاى (10) مه | د يوناما الوتکه | 1 ورځ | |

رپورټر: استاد عبدالله :

محققين : اسدالله محقق، ډاکټر عبدالحکيم

د موټر نمبر او موټروان:

## د "د" گروپ

## د شمال لوديځ زون

د ټيم غړي: عبدالحی خراسانی، انجنير معراج الدين، حاکمه مشعل:

| شمېره | مقصد: له | مقصد: تر | د سفر نېټه | ټرانسپورټي وسيله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | کابل | مزارشريف | د جون (10) مه | د يوناما يا اريانا الوتکه | 8 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 2 | مزار شريف | سمنگان | د جون (18) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 3 | سمنگان، مزار شريف | جوزجان | د جون (24) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 4 | جوزجان – مزار شريف | سرپل | د جون (30) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 5 | سرپل – مزار شريف | فارياب | د جولای (6) مه | د دفتر موټر | 3 ورځې | سيمه ييز دفتر دې تصميم ونيسي |
| 6 | فارياب – مزار شريف | کابل | د جولای (10) مه | د يوناما الوتکه | 1 ورځ | |

رپورټر: داکتر عبدالحکيم :

محققين : اسدالله محقق، ډاکتر عبدالحکيم

د موټر نمبر او موټروان:

## د هـ ګروپ
## مرکزي زون

**د ټیم اعضا: ډاکټر محمد امین احمدي، سلیمان بلوچ، صدیقه بلخی**

| شمېره | مقصد | | د سفر نېټه | ټرانسپورټي وسیله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | له | تر | | | | |
| 1 | کابل | بامیان | د جون (10) مه | د یوناما یا اریانا الوتکه | 30 ورځ | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 2 | بامیان | کابل | د جولای (10) مه | د یوناما یا اریانا الوتکه | 1 ورځ | |

**رپورټر: داکتر عبدالحکیم :**

**محققین : اسدالله محقق، ډاکټر عبدالحکیم**

**د موټر نمبر او موټروان:**

# دویم پــــړاو

## "و" ګروپ

## سویل زون

**د ټیم غړي: محمد موسی معروفی ، نادر علی مهدوي، پروین علي مجروح**

| شمېره | مقصد | | د سفر نېټه | ټرانسپورټي وسیله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | از | تا | | | | |
| 1 | کابل | کندهار | د جون (20) مه | د یوناما یا اریانا الوتکه | 8 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 2 | کندهار | زابل | د جون (28) مه | د دفتر موټر | 5 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 3 | زابل- کندهار | ارزګان | د جولای (3) مه | د دفتر موټر | 5 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 4 | ارزګان – کندهار | هلمند | د جولای (8) مه | د دفتر موټر | 5 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 5 | هلمند | نیمروز | د جولای (13) مه | د دفتر موټر | 5 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 6 | نیمروز | کندهار | د جولای (18) مه | د دفتر موټر | 3 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 7 | کندهار | کابل | د جولای (22) مه | د یوناما الوتکه | 1 ورځ | |

**رپورټر: نجیب الله امین :**

**محققین : نجیب الله امین ، عذرا جعفری**

**د موټر نمبر او موټروان:**

# د "ز" ګروپ

## سویل لودیځ زون

**د ټیم غړي: داکترعبدالحی الهی، میر محمد افضل، آمنه افضلي**

| شمېره | مقصد | | د سفر نېټه | ټرانسپورټي وسیله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | له | تر | | | | |
| 1 | کابل | هرات | د جون (20) مه | د یوناما یا اریانا الوتکه | 8 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 2 | هرات | فراه | د جون (28) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 3 | فراه ، هرات | غور | د جولای (4) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 4 | غور ، هرات | بادغیس | د جولای (10) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 5 | بادغیس | هرات | د جولای (16) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 6 | هرات | کابل | د جولای (22) مه | د یوناما او یا اریانا الوتکه | 2 ورځې | |

رپورټر: عنایت الله سادات :

محققین : عذرا جعفری ، نجیب الله امین

د موټر نمبر او موټروان:

## د "ح" ګروپ
## د کابل زون

**د ټیم غړي: محمد اشرف رسولي، انجنیر محمد اکرم، فاطمه ګیلاني**

| شمېره | مقصد (له) | مقصد (تر) | د سفر نېټه | ټرانسپورټي وسیله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | کابل | کابل | د جون (20) مه | د یوناما یا اریانا الوتکه | 8 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 2 | کابل | پروان | د جون (28) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 3 | پروان | کاپیسا | د جولای (4) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 4 | کاپیسا، کابل | لوګر | د جولای (10) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 5 | لوګر، کابل | میدان وردګ | د جولای (16) مه | د دفتر موټر | 6 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 6 | میدان وردګ | کابل | د جولای (22) مه | د دفتر موټر | 1 ورځ | |

رپورټر: زرغونه :

محققین : عذرا جعفری، نجیب الله امین

د موټر نمبر او موټروان:

# د "ط" ګروپ

## د پاکستان زون

**د ټیم غړي: قاضی محمد امین وقاد، پوهاند عبدالعزیز**

| شمېره | مقصد | | د سفر نېټه | ترانسپورټي وسیله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | له | تر | | | | |
| 1 | کابل | اسلام آباد، پېښور | د جون (20) مه | د اونهاس یا اریانا الوتکه، د دفتر موټر | 12 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 2 | پېښور | اسلام آباد | د جولای (2) مه | د دفتر موټر | 4 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 3 | اسلام آباد | کوټه | د جولای (6) مه | د دفتر موټر | 12 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 4 | کوټه | اسلام آباد | د جولای (18) مه | د بی آی ای الوتکه | 1 ورځ | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 5 | اسلام آباد | کابل | د جولای (20) مه | آریانا الوتکه | 1 ورځ | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |

رپورټران : محمد بلال وناجیه :

محققین : عذرا جعفری، نجیب الله امین

د موټر نمبر او موټروان:

# د "ی" ګروپ
## د ایران زون

**د ټیم غړي: محمد طاهر هاشمي، محمد صدیق پتمن، استاد دانش**

| شمېره | مقصد | | د سفر نېټه | ټرانسپورټي وسیله | د اوسېدو وخت | د اوسېدو ځای |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | له | تر | | | | |
| 1 | کابل | تهران | د جون (20) مه | د یوناما یا اریانا الوتکه | 14 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 2 | تهران | مشهد | د جولای (4) مه | الوتکه | 12 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 3 | مشهد | تهران | د جولای (16) مه | الوتکه | 4 ورځې | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |
| 4 | تهران | کابل | د جولای (20) مه | د یوناما یا اریانا الوتکه | 1 ورځ | سیمه ییز دفتر دې تصمیم ونیسي |

ریپورټر: عذرا جعفری :

محققین : عذرا جعفری، نجیب الله امین

د موټر نمبر او موټروان: